# د Cedar Grove عالي ښوونځي استثنايی زده کوونکي په Sneaker Ball Gala Extravaganza کې ځلیږي

د Cedar Grove عالي ښوونځی د استثنايي زده کوونکو د یوې ډلې په خاطر د ماشومانو استثنایی اونی په اضافي توګه ځانګړې کړه. یاد ښوونځي د [Best Buddies, International](http://www.bestbuddies.org) سره ملګرتیا وکړه او د اپریل په 16مه یې د *Sneaker Ball Gala Extravaganza*n د مالي لګښت ذمه واري په غاړه واخیسته ترڅو د پروګرام لپاره پیسي راټولې کړي.

Best Buddies د فکري معلولیت لرونکو زده کوونکو سره په خپلواکی، د ځان وکالت، د اړیکو مهارتونو په ترلاسه کولو او د بامعنی ملګرتیا په رامنځته کولو کې مرسته کوي په داسي حال کې چې بریالۍ دندې خوندي کوي او د ټولنې لخوا د ارزښت احساس کوي.

آغلې Tonya Bush چې د Cedar Grove په عالي ښوونځي کې د ځانګړې زده کړې ښوونکې ده په ښوونځي کې د Best Buddies څانګې د مالي لګښت ذمه واره ده. هغې د یو بل سره د ملګرتیا نوښت له لارې په خپلو زده کوونکو باندې د دې پروګرام مثبت اغیز لیدلی دی. دا نوښت د افرادو ترمنځ د فکري او پرمختیايي معلولیت لرونکو او د دغه معلولیت نه لرونکو اشخاصو ترمنځ ملګرتیا رامنځته کوي ((IDD، ټولنیز تعاملات وړاندې کوي او د ژوند کیفیت او د هغو خلکو لپاره د شمولیت کچه لوړوي کوم چې ډیری وختونه جلا او محروم پاتې شوي وي.

آغلې Bush وویل چې "زموږ د عمومي زده کړو زده کوونکي د ښوونځي د بوختې ورځې څخه وخت اوباسي ترڅو د خپل ملګرتیا ملګرو ټولګي ته د سلام ویلو لپاره ودریږي او ځیني وختونه د غرمې د ډوډۍ وقفې له هغوی سره په فعالیتونو کې تیرې کړي." "د یو هغه چا ښودل چې تاسو یې پاملرنه کوئ خورا زیات توپیر رامنځته کوي."

د Sneaker Ball څخه راټولې شوې پیسې به د زده کوونکو لپاره د ټولنې پر بنسټ لارښوونو او فعالیتونو چمتو کولو لپاره وکارول شي. Charles Gerth د خپلو ټولګیوالو سره نڅا وکړه او د دې غونډې تنظیمولو لپاره یې د خپلې ښوونکې آغلې Bush څخه مننه وکړه.

Charles وویل چې "د هغو ټولو ښه شیانو او مثبتو کارونو لپاره ډیره مننه چې تاسو یې ترسره کوئ." "موږ ښه وخت لرو او د ځان څخه خوند اخلو. دا یوه ښه ورځ ده، یوه ښکلې ورځ ده."

آغلې Bush هیله لري چې Best Buddies به د معلولیت لرونکو او غیر معلولیت لرونکو زده کوونکو سره د تلپاتې ملګرتیا په رامنځته کولو کې مرسته وکړي.

هغې وویل چې "په دې دور کې زموږ زده کوونکي په دې نه پوهیږي چې ټول زده کوونکي یو شان دي خو په جلا ډول زده کړه ترسره کوي." زه نه یواځې هره میاشت د یوې غونډې کوربه توب کوم بلکې زه د خپل Best Buddy دغړو تربیت هم کوم. د یوې مشاورې په توګه، دا خبره اړینه ده چې د عمومي زده کړو زده کوونکي په دې پوه شي چې فکري معلولیت څه معنی لري.

د Best Buddies په اړه د لا زیاتو معلوماتو لپاره د لاندې لینک وګورئ: [www.bestbuddies.org](http://www.bestbuddies.org)

XXX